نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۴/۰۳/۰۲

# د افغانستان پوهنتونو ته ځغلند نظر

په هیواد کې تر ټولو پخوانی او مهم پوهنتون د کابل پوهنتون دی، ورپسې د ننګرهار پوهنتون دی، چې دواړه په مختلفو وختونو کې تر ډیره حده بنه پاتې شوي دي.
په تیرو دریو لسیزو کې د هیواد علمي مرکزونه د یادو پوهنتونو په ګډون د جګړو پر مهال متأثره شول، له ډول ډول ننګونو سربیره په علمي لحاظ هم د یادو پوهنتونو معیار د دې پر ځای چې مخ پورته ولاړشي، مخ په کښته روان وو، چې لا هم دغه لړۍ دوام لري.
په خوا(د پاچا ظاهر خان او ولسمشر داؤد خان) په وختونو کې د دولسم ټولګیو له فارغانو څخه په سم ډول له فساد او اختلاس څخه خلاص کانکور اخستل کیدی، د دولسم ټولګیو څخه فارغو زده کوونکو به د خپل لیاقت له مخې ور پوهنځیو ته لاره پیداکوله، دا ډول د لیلي اړوند هم یوې ثابتې او منظمې تګلارې شتون درلود.
د لیرې پرتو سیمو محصلینو ته به په لیله کې ځای ورکول کیدی، خو د دولتي چارواکو زامن په لیلیه کې له اوسیدو څخه له دې امله نه شوای اوسیدلای چې هغوی کولای شول پرته له دې چې په لیلیه کې ځای ورکول شي هم زده کړو ته دوام ورکړي، او د تحصیل دوره بشپړه کړي.
د بدخشان، بامیان او هلمند د لیرې پرتو سیمو محصلینو ته به غرمه مهال څو ډوله خواړه د وریجو او میوې سربیره ورکول کیدل، خو د کابینې د وزیرانو زامنو به د کابل پوهنتون په کاپیتریا کې یواځې چپس خوړل، حق یې نه درلود چې د پوهنتون له ډوډۍ څخه استفاده وکړي.
د کابینې د وزیر زوی حق نه درلود چې د پیسو او یا اړیکو په واسطه د طب او انجنیري پوهنځي ته لاره پیداکړي، د سردار داؤد خان زوی حق نه درلود چې د دولتي موټر څخه په استفادې پوهنتون ته تګ او راتګ وکړي، هغه به د عامو محصلینو په قطار کې په ملي بس کې پوهنتون ته تلی، او په ټولګی کې د پوهنتون استاد له دې څخه ویره نه درلودله چې که د سردار داؤد خان زوی په درسونو کې د تنبلۍ له امله ناکام کړي نو د پوهنتون له استاد او د پوهنځي له رئیس څخه به چارواکي پوښتنې او ګرویژنې وکړي، او یا به تهدید شي، بلکه دوخت لوړ پوړو چارواکو به غوښتل چې زامن یې د عامو محصلینو او زده کوونکو په قطار کې وي او په خپل لیاقت کامیاب شي.
یو ځل پاچا ظاهر خان هلمند ولایت ته تللی وو، په بست هوټل کې اوسیدی، د وخت د لوړ پوړي چارواکي (مستوفي) میرمن د خپل زوی د کامیابي په اړه مرسته ورڅخه وغوښته، زوی یې په ازموینه کې ناکام شوې وو، که ښوونکي او د پوهنې چارواکي ته پاچا ظاهرخان لاربښوونه وکړي چې کامیاب یې کړي.
پاچا ظاهر خان ورته وایي چې دا د ښوونکي دنده ده چې ستاسې زوی یې ناکام کړی دی، تر موږ ټولو په دې برخه کې ښوونکی ښه پوهیږي، او ښوونکی هیڅ وخت داسې نه کوي چې لایق او وړ زده کوونکی ناکام کړي، تاسې خپله ستونزه مخامخ ښوونکي ته وړاندې کړئ، زه بخښنه غواړم چې د ښوونکي په صلاحیتونو کې مداخله نه شم کولای.
په تیرو دولس کلونو کې د هیواد تعلیمي معیارونو ته ډیر سخت زیان ورسید، ټولو هغه وړ او مناسبو معیارونو ته بدلون ورکول شو، د غرب څخه وارد شوی فساد او اختلاس زموږ په علمي مرکزونو کې هم رشد وکړ.
په تیرو کلونو کې موږ د کانکور په ازموینه کې د ډیرو ستونزو او درغلیو شاهدان یو، چې د دغو درغلیو له امله زموږ ډیری لایق محصلین ونه توانیدل چې د لوړو زده کړو ادارو ته لاره پیداکړي، برعکس ډیر لټ او نالایق محصلین وتوانیدل چې د درغلیو د لارې د هیواد مهمو او مشهورو پوهنتونو کې ښو پوهنځیو ته لاره پیداکړي.
سږ کال (۱۳۹۲ ل) ستره ننګونه داوه چې د لوړو زده کړو د وزارت له خوا څخه د کانکور د ازموینې د سوالونو، سوال او ځواب د موبایل ټلیفون د پیغام په ډول چمتو کړل شوې دي، او د همدغه پیغام قیمت په لومړیو وختونو کې تر ۲۰۰۰ دوه زره امریکایي ډالرو پورې رسیدی، لږ وخت وروسته یې قیمت ۱۵۰۰پنځلس سوه ډالر، او بیا ۱۰۰۰ زر ډالرو ته ورسیدی، کله چې همدغه پیغامونه ډیرو د دولسم ټولګیو فارغو زده کوونکو تر لاسه کړل، په ولایتونو کې د کانکور د ازموینې ورځې چې کله رانږدې شوې، قیمت یې تر ۳۰۰۰۰ دیرش زره کلدارو چې ۳۰۰ درې سوه ډالره کیږي را ټیټ شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د پوهنتونو په استادانو کي د پام وړ بدلون نه دی راغلی، همهغه پخواني د لوړ عمر لرونکي استادان دي، ډیر کم تازه او نویو استادانو پوهنتونو ته لاره پیداکړي ده، لامل یي دادی چي پخواني زاړه او پوخ عمره استادان نه غواړي چي نوي فارغ کسان چي په بهر کي یي د ماستري او دکتورا تر کچي زده کړي کړي پوهنتون ته د استادي کولو لاره پیداکړي، ځکه چي بیا یي د خپل حیثیت د کموالي لامل ګڼي او فکر کوي چي که دغه نوي تکړه ځوانان پوهنتونو ته د استادي کولو لاره پیداکړي نو بیا به د دوی له پاره په پوهنتون کي د استادي کولو چانس نه وي او تقاعد به شي، هسي یي هم د تقاعد وخت پوره شوي، خو لاهم په استادي بوخت دي.
پوهنتون کي د استاد منلو له پاره یي دومره مغلقه او له ستونزو ډکه تګلاره جوړه کړي، چي هیڅ نوی علمي کدر زړه نه ښه کوي چي له دغو اغزنو او ستونزمنو لارو، د لوړو زده کړو وزارت د شعبه پر شعبه ګرځیدو ته وړه ورکړي.
دا ډول په پوهنتونو کي پخواني استادان په هم اهنګ ډول هڅي کوي چي د دوی خپل زامن او خپلوان چي کله له کومي پوهنځي څخه فارغ کیږي همهغه ته بیا په پوهنتون کي ډیر ژر استادي ورکوي او د استاد په صفت یي مني.
اوسمهال د لوړو زده کړو وزارت او د هیواد نوموتي پوهنتونونه یو ډول یرغمل شوي ښکاري، که د هر ګوند، هري ډلي او هر توکم په لاس کي واک ورشي هغوی هڅه کوي چي د خپلو طرفدارانو ګټي په نظر کي ونیسي او دغه له شرمه ډکه لړۍ د کمونستانو د انقلاب پر وخت را منځته شوه چي لا یي هم لړۍ دوام لري.
کمونستانو چي کله واک په لاس کي واخیست، خپل حزبي کمونستان یي په پوهنتونو کي پر ښو دندو وګمارل، او دا ډول یي پخواني مسلمان، لایق او تجربه لرونکي استادان د اخوانیانو او په ډول ډول نومونو له دندو څخه وشړل، او یا یي په مرګ تهدید کړل، د کمي تجربي کمونسټ پلوه استادان یي دهغوی پر ځای پر دندو وګمارل چي دغه ډول کړني زموږ د لوړرو زده کړو موسیساتو ریښني متضرره کړي.
پوهنتون ته هم هغو محصلینو ته حق اولیت ورکول کیدی او لاره یي پیداکولای شوای چي حزبی (خلقي او یا پرچمي) به وای، دا ډول د کانکور د ازمویني پر مهال هم حزب پلوه محصلینو ته اجازه وه چي نقل وکړي او پوهنتون ته لاره پیداکړي، خو نورو هغو محصلینو ته بیا د نقل چانس نه وو چي په حزب کي شامل نه وو.
کمونسټ پلوه محصلین درسونو ته نه حاضریدل، او حاضري یي نه ورکوله، داسي مثالونه هم لرو چي یو محصل به په کومه نظامي دلګی کي دنده درلوله، او پوهنتون کي به هم شامل وو، د ازمویني پر مهال به یي امتحان کي برخه اخستله، استادان به یي ګوابنل چي که ناکامه شي، بیا به ناسم برخورد ورسره وکړي، دغه ډول مثالونه د ننګرهار پوهنتون کي لیدل شوي.
کله چي د استاد رباني په مشري د مجاهدینو حکومت واک په لاس کي واخیست، یوه موده د کابل پوهنتون فلج وو، محصلین او استادان نه وو، کورني جګړه روانه وه، کابل پوهنتون د حزب وحدت استاد مزاري د ټوپکوالو په لاس کي وو، د ښتنو د حلالولو او ژوندي ښخولو ځای وو.
د ننګرهار پوهنتون فعالیت درلود، د اسلامي حزب په برخه رسیدلي وو، او لږ تر لږه ګوندي شکل یي درلود، ډیرو هغو محصلینو ورته لاره پیداکړي وه چي په اسلامي حزب پوري یي تړاو درلود.
د پخوانیو استادانو سربیره نوي استادان چي په ننګرهار پوهنتون کي ومنل شول، ګردو په اسلامي حزب پوري تړاو درلود، چي د پخوا په ډول همدغسي دغي ناسمي لړۍ دوام پیداکی.
د کابل پوهنتون چي کله د مسعود ټوپکوالو له وحدت ګوند څخه ونیوی، فعالیت یي پیل کړ، د پخوانیو استادانو سربیره نوي استادان ټول د اسلامي جمعیت ګوند کسان وو چي د استادانو په صفت په پوهنتو کي ومنل شول.
دا ډول د کابل پوهنتون ته هغه محصل لاره پیداکوله چي د اسلامي جمعیت ګوند پوري یي تړاو درلود، په کمه اندازه د استاد سیاف د اسلامي اتحاد ګوند محصلینو هم لاره پیداکوله، دا چي هغوی پښتانه وو، ستونزمنه وه چي په کابل او کابل پوهنتون کي ژوند وکړي، ځکه د استاد رباني په وخت کي لویه ستونزه داوه چي پښتانه په یو او بل نوم ټکول کیدل.
زما ښه یاد دی چي موږ له دي امله کابل پوهنتون ته زړه نه ښه کاوو چي کابل د مسعود د خلکو په لاس کي وو، او په کابل کي اوسیدل مو له خطره ډک ګڼل چي همداسي هم بیا وروسته ثابت شول.
په ننګرهار پوهنتون کي یواځي د اسلامي حزب اړوند غونډو او مجلسونو ته اجازه ورکول کیدله، پخواني هغه محصلین چي د ډاکتر نجیب الله د وخت وو، او په لوړو صنفونو کي وو، د نویو محصلینو او پخوانیو مجاهدینو (استادانو) له ناسم غبرګون او تهدید سره مخ وو، او هغوی ته بقایا ویل کیدل، په لیلیه او تدریسي کي په سپکه سترګه ورته کتل کیدل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

پخوانيو کمونستي پلوه او يا هغه چې دوی ويل بې پرې وو، استادانو ته د نويو محصلينو له خوا څخه هغه ډول احترام نه کيدی کوم چې لازم وو، ځکه نويو محصلينو ځانونه د مجاهدينو زامن ګڼل او پخواني استادان يې کمونستان بلل.
د مجاهدينو د حکومت پر مهال د پوهنتونو حالات د پام وړ کمزوري وو، همهغه زاړه چپترونه او نوټونه وو چې محصلينو ته تدريس کيدل، هيڅ ډول نوی والی رانه غی، دا ډول په پوهنتونو کې ګوندي او تعصبي چلند له ورايه معلوميدی.
د لوړو زده کړو وزارت او په ولايتونو کې په ځانګړي ډول د ننګرهار پوهنتون د رياست تر منځ اړيکې هم ترينګلي وو، د ننګرهار پوهنتون د مرکز اوامر، ادلون او بدلون نه مانه.
بل خوا لويه ستونزه داوه چې د هجرت پر مهال د دعوت او جهاد پوهنتون چې مشري يې استاد سياف کوله، او اسلامي پوهنتون چې مشري يې ښاغلي حکمتيار کوله، دواړو پوهنتونو ته په پيښور کې نور ستونزمن وو چې فعاليت وکړي، دعوت او جهاد پوهنتون کابل ته را انتقال شو، اسلامي پوهنتون موده وروسته بند شو.
تر اوسه هم د اسلامي پوهنتون څخه د فارغانو د اسنادو ارزيابي نه ده شوې، او د لوړو زده کړو وزارت له خوا يې تصديق نه کيږي، چې دهغه وخت فارغ ډاکتران، انجنيران او د نورو پوهنځيو څخه خلاص شوي کدرونه له ستونزو سره مخ دي.
دا ډول د دعوت او جهاد پوهنتون د محصلينو اسناد په هغه وخت کې ومنل شول، ارزيابي شول، ځکه چې يوه موده د استاد سياف د ګوند غړی (استاد سيد عمر منيب) د لوړو زده کړو وزير ټاکل شوی وو، خو لا هم د انجنيري په برخه کې يې دهغه وخت محصلين ستونزې لري او د لوړو زده کړو وزارت له خوايي اسناد نه تصديق کيږي.
د طالبانو په وخت کې د پوهنتونو حالات د مجاهدينو د حکومت تر مهال هم کمزوری وو، پوهنتونو فعاليت درلود، د اقتصادي ستونزو له امله ليليه محصلينو ته سمه غذاء نه ورکول کيدله، چې همدغه حالات د مجاهدينو حکومت پر مهال هم وو، زما ښه ياد دي چې دننګرهار پوهنتون کې موږ د مجاهدينو د حکومت پر مهال يو بشپړ سميستر هيڅ کومه ورځ د ننګرهار پوهنتون په طعام خوري کې غوښه ونه ليدله.
د طالبانو پر مهال ځيني هغه استادان چې د پخوانيو مجاهدينو ګوندونو پورې يې تړاو درلود بيرته وتښتيدل، او له پوهنتونو څخه ووتل، دا ډول ځيني پيژندل شوي کمونستان هم له پوهنتونو څخه له دې ويرې وتښتيدل چې طالبان به ستونزې ورته پيداکړي، له دې امله په پوهنتونو کې د تدريس لړۍ ښه ټکنی شوه.
د ښاغلي کرزي د حکومت په رامنځته کيدو سره پوهنتونو ته په لومړيو کلونو کې زياته توجه وشوه، حکومت خلکو او نړۍ ته د کمپاين په ډول دا خبره ډيره کاروله چې په تعليمي برخه کې ډير پرمختګ شوی دی.
په ټوله کې د ښاغلي کرزي په دولس کلنه دوره کې د لوړو زده کړو په برخه کې ښه پرمختګ وشو، خو له ډيرو زياتو نيمګړتياوو سره، تر ټولو ستره نيمګړتيا داده چې د زده کړې معيار فوق العاده کښته ليول ته راغلی دی، ځيني هغه محصلين چې له پوهنتون څخه فارغ کيږي، داسي فکر کيږي چې د جهاد پر مهال د مهاجرو د ليسو د دولسم ټولګی د فارغ څخه يې علمي سويه ټيټه ده.
دا ډول په ښوونځيو کې داسي کسان له دولسم ټولګيو څخه فارغ شوي دي چې سويه يې د پخوانيو د پاچا ظاهر شاه او افغان مهاجرو د شپږم ټولګی د فارغ سره تر ډيره په ځينو مواردو کې برابره ده.
تر ټولو لويه ستونزه داده چې کله د لوړو زده کړو وزارت وزير ښاغلي سرور دانش وو، هغه هڅه کوله چې د ده هم توکمه هزاره محصلين د لوړو زده کړو ادارو ته لاره پيداکړي، په دې برخه کې هغه دومره کار وکی چې په تيرو سلو کلونو کې يې په هيواد کې ساری نه ليدل کيږي.
دا ډول کله چې ښاغلي ډاکټر عبيدالله عبيد د لوړو زده کړو وزير شو، ويل کيږي چې د ايران څخه متاثره دی، هغه هم همدغه لړۍ بنده نه شوای کړای، او په لوړه کچه هزاره توکم محصلينو د لوړو زده کړو ادارو ته په درغلي سره لاره پيداکړه، د دې تر څنګ داچې وزير په تاجک توکم پوري اړه لري، د تاجک توکم محصلينو هم وکولای شول چې په مناسب اندازه کې د لوړو زده کړو موسيساتو ته لاره پيداکړي، او په ډيره لږ اندازه سره پښتنو وکولای شول چې د لوړو زده کړو اداره ته لاره پيداکړي، د نورو قومونو محصلين خو هسې هم په حساب کې نه راځي.
همدغه درغلي او په علمي مرکزونو کې فساد دی چې زموږ د هيواد د لوړو زده کړو سيستم يې ټکنی کړی دی، ډير وخت داسي وي چې په کانکور ازموينه کې د پوهنتونو محصلين د زده کوونکو پر ځای د مخکې له مخکې جوړجاړي او رشوت له کبله امتحان ورکوي، دا ډول په نيمه لوړو زده کړو ادارو کې د سميستر د ازموينې اخستلو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

په وخت کې هم ځینې تکړه او لایق د پوهنتونو محلصین د نورو پر ځای د اجوري او ملګرتیا له امله امتحان ورکوي.
بله ستونزه شخصي پوهنتونونه او انستیټونه دي، په دغه ډول تعلیمي ادارو کې شخصي اړیکې په فوق العاده ډول سره پالل کیږي، لوړ پوړي چارواکې پکښې مداخله کوي، درسونو ته نه حاضریږي، یواځې د ازموینې پر مهال امتحان ته ورځي، او څلور کلونه وروسته د لیسانس په درجه علمي سند تر لاسه کوي.
د حقوقو پوهنځی د دغه ډول مارکیټ تر ټولو مهمه او د شخصي پوهنتونو له پاره لنګه غوا ده، چارواکي او زورواکې کوشش کوي چې په حقوقو پوهنځي کې مداخله وکړي، او ډیر ځله خو داسې وي چې د دولسم سند هم د دغه ډول کسانو جعلي وي، او یا خو یې د پیسو په مقابل کې د پوهنې اړوند څانګو څخه ترلاسه کړی وي.
د ځینو هیوادونو په مالي او سیاسي ملاتړ د ځینو لویو او مجهزو شخصي پوهنتونو شتون د هیواد به مرکز کې هم ګڼ سوالونه له ځان سره لري، چې ممکن له دې لارې به ځینې هیوادونه هڅه کوي چې د افغانستان په راتلونکې سیاست کې فعال پاتې شي، او په راتلونکې کې د افغانستان سیاسي تګلاره د دوی په ګټه وڅرخول شي.
دا ډول هغه محصلین چې د لیاقت په نظر کې نه نیولو سره بهر هیوادونو ته د لوړو زده کړو له پاره لیږل شوې، ډیری یې په بهرنیو پوهنتونو کې له یو سمیسټر او یا کال تیرولو وروسته بیرته مجبوره شوې چې پوهنتون له دې امله پریږدي چې نه شي کولای لوړو زده کړو ته دوام ورکړي، او یا خو په بهرنیو پوهنتونو کې د چمتووالي د زده کړو څخه وروسته په ازموینه کې پاتې راځي.
دغه ډول کړنې موږ ته دوه زیانه لري، لومړی داچې له اولي ورځې محصل په درغلي اموخته کوو، او هغه ته ښیو چې د درغلي په نتیجه کې ته کولای شې چې بهر هیواد ته د لوړو زده کړو له پاره ولاړ شې، دوېیم داچې د لایق محصل حق خوړل کیږي، خو بالاخره هغه سکالر شیب موده وروسته همداسې خالي پاتې کیږي، تمبل محصل یې د لوړو زده کړو د مخ ته بیولو توان نه لري، او لایق محصل په اول سر کې ورڅخه بې برخې شوې وي.
زه نه وایم چې په دې برخه کې ټولې نیمګړتیا وې دي، بلکه پرمختګونه هم شته، موږ اوسمهال ځینې ډیر ښه او وړ شخصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسیسات لرو، چې په هره برخه کې یې د پام وړ خدمتونه کړي، خو دا ډیر لږ او د ګوتو په شمار دي، ولې هغه ډول د لوړو زده کړو موسیسات چې اختلاس، فساد او درغلي پکې شتون لري زیات دي.
که افغان دولت، د دولتي او شخصي پوهنتونو مسؤولین د پوهنتونو د ډیروالي (کمیت) تر څنګ د پوهنتون ښه والي (کیفیت) ته هم توجه وکړي، او په لوړو زده کړو موسیساتو کې د فساد، اختلاس او درغلیو مخه ونیسي، د جعلي اسنادو او دا ډول غیر معیاري زده کړو پر ځای معیاري زده کړې محصلینو ته برابرې شي، پرته له شکه موږ به په دې برخه کې پرمختګ ولرو.
دا ډول افغان حکومت او ټولو په سیاست او جګړه کې ښکیلو لورو ته په کار ده چې علمي مرکزونه غیر سیاسی، غیر ګوندي کړي او په ځانګړو ډلو او توکمو پورې یې ونه تړي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ